# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٤ ګڼه / يکشنبه ۲٦ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱٦ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰٥ مى ۲۰۲٤ ميلادي


## هرات کې د روسي تېلو د لېږد لوژستيکي مرکز جوړېږي



د صنعت او سوداګرۍ وزير نورالدين عزيزي ويلي، چې سويلي اسيا ته د روسيې د تېلو د لېږدولو په موخه له ترکمنستان او قزاقستان سره يوې هوکړې ته رسېدلي دي.

ښاغلي عزيزي ويلي چې د تېلو دغه لوژستيک مرکز به د هېواد په لوېديځ (هرات) کې جوړ شي.

نورالدين عزيزي له رويټرز اژانس سره خبرو کې ويلي، چې تخنيکي ټيمونه به په دوو مياشتو ياد هوکړه ليک چمتو کړي. افغان، ترکمن او قزاق استازي له تېرو دريو مياشتو د ياد لوژستيکي مرکز پر جوړوني بحث کاوه چې اوس يوې کوټلې هوکړې ته رسېدلي دي.

د ويلو ده چې له دې وروسته به هرات د روسيې د تېلو لوژستيک مرکز وي.


د ايران د بيت المقدس داعيه اودصهيونيستي رژيم وحشتونه! ۲

براى کسانى که سياست را از دين جدا مى دانند! ۲

برگزارى ميله دهقان و سى و مين نمايشگاه محصولات زراعتى در فارم تحقيقاتى بادام باغ ۲

افغان اعلانات ۲


## هرات کې د کيمياوي سرې توليدي کارخونه جوړه شوه



د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو مرستيال او د هرات مرستيال والي مهاجر فراهي د باختر آژانس خبريال ته ويلي چې د يو ملي سوداګر له لوري د دغه ولايت په صنعتي ښارګوټي کې د ۵۰۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت د کيمياوي سرې د توليد کارخونه جوړه شوې، چې په ۲۴ ساعتونو کې له ۲۰ څخه تر ۲۵ ټنه کيمياوي سرې د توليد وړتيا لري.

نوموړي زياته کړې، چې د اسلامي امارت مشرتابه د سوداګريزو فعاليتونو د زياتوالي په موخه په ياد ولايت کې ۵۰ زره هکتاره ځمکه د صنعتي ښارګوټي د جوړولو لپاره ځانګړې کړې ده. ۳مخ


## کار پروژه توليد ۱۰ ميگاوات برق آفتابى نغلو ۷۵ درصد پيش رفته است

کار ساخت پروژه توليد ۱۰ ميگاوات برق با منبع آفتابى در بند برق نغلو ۷۵ درصد پيش رفته است.

وزارت آب و انرژى با نشر خبرنامه‌اى گفته که ملا عبداللطيف منصور، سرپرست اين وزارت از جريان کار اين پروژه ديدن کرده است.

در جريان اين ديدار مسئولان شرکت قراردادى از درصدى پيش‌رفت کار آن، خبر داده‌اند.

آقاى منصور حين بازديد از... ص۳



## د «لته بند» سړک پاتې چارې بشپړېږي

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند ورمه ورځ د کابل-جلال اباد له بديلې لارې لته بند څخه ليدنه کړې ده.

په دې سفر کې د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر سربېره د تولګټو وزير ملا محمد عيسى ثاني، د کابل والي ملا امين الله عبيد، د ننګرهار والي ملا محمد نعيم اخوند (حاجي ګل محمد) او يو شمېر نورو مسوولينو برخه اخيستې وه.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ننګرهار ته د سفر پر مهال د ياد سړک د جوړولو ژمنه وکړه. ملا عبدالغني برادر له دې سړک څخه د ليدنې پرمهال ويلي، د تولګټو وزارت پلان لري چې تر راتلونکو څو ورځو د لته بند له لارې د کابل - سروبي پاتې چارې پيل کړي.

افغان چارواکو تر دې وړاندې د يوه کان په بدل کې د کابل-جلال اباد د دويم سړک د رغونې خبر ورکړی و. د کابل والي په خپل دفتر کې د کانونو او پټروليم وزارت او تولګټو وزارت له استازو سره په... ۳مخ

## انجنير عزير بريالى د دولتي ورځپاڼو رييس وټاکل شو




د معارف راډيو ټلويزيون پخوانى رييس انجنير عزير بريالى د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو چارو د معينيت تر چتر لاندې د دولتي ورځپاڼو رييس وټاکل شو.

انجنير عزير بريالى د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او فرهنګ د مرستيال مولوي عتيق الله عزيزي له لوري خپلو کارکوونکو ته ورو پېژندل شو او رسما يې... ۳مخ

## سرمقاله

## د بيان ازادي او امريکايي ديموکراسي!!

که څه هم د تېرو اوو مياشتو په جريان کې پر غزه د اسرائيلي وحشت د ننګې له کبله د لويديځ اصلي څېره، ديموکراسي، د بيان ازادي او بشري حقونو د نارو- سورو رښتينی حقيقت ګردې نړۍ ته د لمر په شان څرګند شو، خو په دې وروستيو کې د امريکايي پوهنتونو لسګونو زرو محصلينو د فلسطين په ملاتړ مظاهرې وکړې او بيا له هغوی سره چې حکومتي چارواکو او پوليسو کوم چلند وکړ نو يقيناً چې نه يوازې اسلامي نړۍ بلکې ټول جهان ته يې د امريکايانو بدماشي، سر زوري او د هغوی منافقت او دروغجنتوب د سر په سترګوور وښود- اوس نو پر ته له شکه د نړۍ پرمخ ټولو ملتونو- عرب او عجمو ته د هغوی انسانيت، اخلاق، بشري ارزښتونه او هغه دعوې او شعارونه يې چې د ازادۍ، ديموکراسۍ، بشري حقونو او نورو ارزښتونو په نامه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپل دروغجن تبليغاتي ماشين پرمټ شپه ورځ تکراروي، سل په سلو کې دروغ، له واقعيته ډېر ليرې او يو پوچ او بې معنا پروپاګند ثابت شو. حقيقت دادی چې د امريکايانو همدغه چلند او ناروا دريځ د غربي ديموکراسۍ او د هغوی په وينا ديموکراتيکو ارزښتونو ټوله هغه داعيه په خړ سېلاب يووړه چې له تېرو دوو پېړيو راهيسې يې د اسلام، کمونيزم او نورو فلسفو پر وړاندې يوې وسلې په توګه کاروله او بشري وجدان ته يې پرې د قناعت ورکولو هڅه کوله- مطلب دا چې دغو وروستيو پېښو غربي فلسفه هم داسې ناکامه او بدنامه کړه لکه پر افغانستان د شوروي يرغل چې د کمونيزم د مرګ او هلاکت لامل شو- په دې اساس معلومه شوه چې نور نو د لويديځ هويت ختم، فلسفه يې پوچه اخلاق او ارزښتونه يې يو مخ دروغ او غرضي دي- لنډه دا چې د فلسطين په اړه د اسرائيلو وحشت او د ګردو نړيوالو په مخالفت کې بې شرمۍ سره د صهيونيزم ډاګيزه مرسته ددې لامل ګرځېدی شي چې پر نړۍ د امريکې د سردارۍ او بادارۍ دوران پای ته ورسوي. دغه راز دا هم ثابته شوه، چې د غرب فيوډالي نظام د بشري ستونزو د حل په چاره کې قطعاً ناکام او د اسلامي داعيې پر وړاندې يې څرګنده ماته خوړلې ده- په دې اساس دمګړۍ د لويديځ واکمنو ته پرته له بدماشۍ نور هيڅ هم نه دي ورپاتې، که څه هم دوی به لا هم خپلو پخوانيو شعارونو ته د نړيوالو له شرمه هم ترڅه مودې پورې دوام ورکړي او پر نورو سرغړونکو به د بنديزونو ګواښونه هم کوي، خو ښکاره واقعيت دادی چې د دوی د خيالونو ماڼۍ اصلاً له بيخه نړېدلې ده.

## د پاکستان له زندانونو ۱۵ افغانان خوشي شوي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وايي، چې د پاکستان له بېلابېلو زندانونو ۱۵ افغانان خوشي شوي. ياد وزارت ويلي، چې خوشي شوي بنديان خپل هېواد ته ستانه شوي دي.

د تورخم سرحدي آمريت د معلوماتو له مخې، دغه... ۳مخ



**معين وزارت امور سرحدات اقوام و قبايل:**

## به مشکلات اقوام هزاره در چوکات قانون رسيدگى صورت خواهد گرفت



معين وزارت امور سرحدات اقوام وقبايل در ديدار با اعضاى کميسيون مشترک حل منازعات کوچيها و اقوام هزاره گفت به مشکلات اين کميسيون در چوکات قانون رسيدگى صورت خواهد گرفت.

دفتر مطبوعاتى وزارت امور سرحدات اقوام وقبايل با نشر اين خبر گفته است، مولوى محمد على جان احمد معين جرگه ها و هماهنگى امور قبايل... ص۳

## استقبال شهروندان از فعاليت هاى شاروالى کابل

**شريعت:** پس از روى کار آمدن امارت اسلامى، رياست شاروالى کابل از آنعده ارگان‌هاى دولتى است که شب و روز در نقاط مختلف شهرکابل مصروف ارايه‌ى خدمات و ايجاد نظم شهرى است. نهادى که نزديک به سه سال مى‌شود، فعال تر از همه ارگان‌ها بوده و مصروف تطبيق پروژه‌هاى بزرگ انکشافى و سرک سازى در گوشه و کنار افغانستان به ويژه شهرکابل بوده، اما ديدگاه و پلان رهبرى رياست شاروالى کابل مبنى بر ساخت و ساز پروژه‌ها در کابل چيست؟


نعمت‌الله بارکزى، نماينده شاروالى کابل در اين باره به روزنامه شريعت گفت که شاروالى کابل يک ارگان خدماتى است و در قسمت ارايه‌ى خدمات از هيچ نوع تلاش شبانه روزى دست بردار نيست: «بدون شک که شاروالى کابل يک ارگان کاملاً خدماتى است و در راستاى تطبيق پروژه‌هاى انکشافى خود، پلان‌هاى همه ساله دارد و اکنون نيز پروژه‌هاى بزرگ در حال تطبيق است و اين روند ادامه مى‌يابد.»

آقاى بارکزى از پلان سازى شهرها که از سوى اين رياست روى دست است خبر داد: «شاروالى کابل تمام تمرکزاش اکنون در شهرهاى غير پلانى است که اين شهرها بايد پلانى‌گردد و عنصر اساسى آن ايجاد سرک‌ها است و اين پروژه‌هاى ساخت وساز سرک‌ها اکنون در گوشه وکنار افغانستان به چشم مى‌خورد.»

آذرخش حافظى، آگاهِ مسايل اقتصادى، کارکردهاى شاروالى کابل را در شرايط فعلى و با وجود نبود حمايت بيرونى... ص۳



## سهيل شاهين با رئيس هيئت فدراسيون بين‌المللى جمعيت‌هاى صليب سرخ و هلال احمر ديدار کرد



محمد سهيل شاهين، رئيس دفتر سياسى امارت اسلامى افغانستان در دوحه با نيسفور مغندى، رئيس هيئت فدراسيون بين المللى جمعيت‌هاى صليب سرخ و هلال احمر ديدار کرده است.

شاهين در صفحه‌اى اکس‌اش نوشته است که او با نيسفور مغندى، رئيس هيئت فدراسيون بين المللى جمعيت‌هاى صليب سرخ و هلال احمر و هما ذکريا نادر، مدير تعامل و مشارکت استراتژيک اين نهاد ديدار مفيد داشت.

او مى‌افزايد: « ما در مورد کمک‌هاى بشردوستانه فدراسيون بين المللى صليب سرخ و جمعيت هلال احمر در مناطق مختلف در افغانستان، به ويژه، کمک به بيوه‌ها، يتيمان و کودکان مبتلا به مشکلات قلبى صحبت کرديم.»

هم‌چنان، به گفته‌ى رئيس دفتر سياسى امارت اسلامى افغانستان در دوحه؛ ما هر دو تأکيد کرديم که نياز روزافزونى به کمک‌هاى بشردوستانه و پروژه‌هاى توسعه اساسى وجود دارد.

# د ایران د بیت المقدس داعیه او د صهیونیستي رژیم وحشتونه!

م- عزام

ایــران چــې د نړۍ پــه کچه د اســلامي هېوادونــو د رهبریــت د محــراق مدعي دی، پــه ځینو اســلامي هېوادونــو کې د مذهبي تجرد غوښــتنې پــه لفافه کې ګڼ شــمېر خیریه، فرهنګي او سیاســي ځالې جوړې کــړې، چې ګواکې یو مهال به دوی ته د ســدید ســنګر په توګه په کار ور شي.
همــدا ډول ایــران د اســلامي امــت په ځانګــړې توګه د اســلامپالو بنســټونو د پاملرنــې او جلب لپاره د بیــت المقدس د آزادۍ داعیــه هم پــه تبلیغاتي ډول ګرمه ســاتلې، په دې وروســتیو کې هره ورځ په لسګونه فلسطینیان مســلمانان ماشومان، بــوډاګان او ښــځې پــه فجیعانــه توګه په شهادت رســول کېږي؛ خو د ایران مدعي سیاســت یې پر وړاندې صــرف د ځارګر پــه توګــه رول اداء کړی، آن تــر دې چې صهیونیستي رژیم د ایران د تبلیغاتو ځواب هم په ډېر خشــونت او بمبارد ســره ورکړ.
ایــران د اســلامي نــړۍ تــر ټولــو تجرد طلبــه او ســلطه‌جو هېــواد دی، همــدا لامــل دی، چې ســره لــه عظیــم پوځي قــدرت او جنګــي تجهیزاتو د اســرائیلو پــر وړاندې کوم غبرګون نشــي ښــودلی. په اســلامي هېوادونو کې د ایران ناکامه او بې مــورده مداخلو او د فلســطین موضوع آن دا چــې د اســلامي هېوادونــو پاملرنه یې هــم د فلســطین لــه ملاتــړه اړولې، ځکــه چې ایران مســتقیماً د فلســطین په مورد کې ســره جګړه له کلونــو پخوا پیل کــړې، چې مثبتــې پایلې لا هــم نه لري.
د اســرائیلو پر وړاندې له هــره اړخه ایران مقتدر هېــواد دی، خو ایران له هېڅ غرب ملاتړي هېواد سره مستقیم ټکر نه غواړي او د غیر مستقیم ټکر او غبرګون په اړه هم داسې فکر او غور کوي، چــې د جنګ لمن ترې لرې وي او مستقیماً جنګ ته داخل نه شي.
چــې دا د ایراني چارواکــو او ایراني نظام پالیســي هم ده، ایران لــه جوړېدو او واک وروسته په منځني ختیځ او د سیمې په ټولو هېوادونو کې د کړکېــچ ځان لپاره تبلیغاتي ځانګــې فعالــوي او د فرهنګي او ســاړه جنګ اور تــه لمن وهي، تل یــې په خړو اوبو کې کبــان نیولي او د نــورو هېوادونو پــه جګړو کــې یې خپلــې ګټــې پاللي. په اویایمه لســیزه کې یې افغانســتان کې هم د نفاق او شــقاق تنظیمونو ملاتړ وکړ. پــه اوســني عصــر کې عــراق ســوریه، یمــن او د ســیمې یــو شــمېر هیوادونــه یــې ښــکاره ښېلګــې ګڼلــی شــو. پــه دې هېوادونــو کې یې له امریکا ســره د نظامونــو پــه را نســکورولو کــې وعده وکــړه او د وخت ســتر جــوړ نظامونه یې پــه ناټــو او امریکا رنــګ کــړل او خپل ګوډاکــي نظامونــه یــې رامنځتــه کړل.
اوس پوښــتنه دادی چې ایران او اســرائیل ځومره د ټکر او جګړې لپــاره لیوالتیا لري او د ګټــې اړخ د کــوم لــوري زیات دی؟
زما په باور اسرائیل اوس په هغه موقف کې نــه دي چې له ایران یا کوم بل هېواد ســره دې جګړې ته زړه ښــه کړي، او د اسرائیلو ملاتــړي هېوادونــه امریکا او نــور غربي هېوادونــه هم په شــرقي او غربي بلاکونو او قطبونــو کې لــه خپلو ســترو ځواکمنو رقیبانو ســره په غیر مســتقیمه توګه بوخت دي، هــر قطــب د خپلې اړوند ســیمې د ملاتــړ او تقویــې لپاره هلــې ځلې کوي.
امریکا او متحدینو یــې درک کړې چې په ډېــرو هېوادونو کې یې جګــړې د واک او ځواک د کمــزورۍ کېدو لامــل ګرځي، ځکــه دوی پوهېــږي چــې اســرائیل په فلسطین کې ناکام دي او هلته تر بې رحمه مرګونو پرته، هېڅ لاســته راوړنــه نه لري. ځکه اوکراین چې د امریکا، ناټو او روسیې ترمنــځ د زور او ځواک تر ټولو حســاس میــدان دی هلته د امریکا او ناټو مرســتې اوکراین ته نجات ور نکړ بلکې روســیه په قوت سره مخ پر وړاندې روانه ده او امریکا خپل دښــمن د بریا په درشــل کې ګوري.
خــو اوس مهمــه دا ده چــې ښــوک د لوبــې ګټونکــی او ښــوک بایلونکــی دی، سیاســي وضعیــت د چــا پــه ګټــه تمامېدای شــي او د سیاســت پــه برخه کې ښــوک وړانــدې تګ کولای شــي؟
په اوسنیو شرایطو کې اســرائیل هم دومره ســیک نه لري چې د فلســطین د جګړې تر ځنــګ دې بلې نوې جګــړې ته داخل شــي او دا چــې ښرنګه یــې د ایــران په اســتازولۍ بریــد وکــړ دا نو بیا اســرائیل پوهېږي چې ایران مخامخ جګړه نه شــي کــولای او اوس چــې نیابتــي جګړه کې وي ممکن له هغــې ښخه هم ډ ډه وکړي.
او د ایران په اســتازولۍ بریــد هم ممکن د امریــکا په هدایــت شــوی وي او دا له دې امله چې ایران له هغو بنســټونو ســره مرستې وځنډوي چې له اســرائیلو سره په مستقیم او غیرې مستقیم ډول جګړه کوي.
اوس به د اســرائیلو او ایران ترمنځ امریکا منځګړیتــوب کوي له یــوې خوابه ایران د اســرائیلو له جګړې ویروي او له بلې خوا به ایران هڅوي چې د اسرائیلو سره د جګړه کوونکو جریانونو ښخه د ملاتړ لاس واخلي.
فکــر کــوم امریکا پــه دې سیاســت کې بریالی هــم ده، او اوس یې د اســرائیلو په ګټه په ایران فشــار هــم وارد کړی، چې په اســرائیلو برید ونــه کړي او منتظر شــي، خــو که ایران اســرائیلو تــه بالمثل ځواب ور نــه کړي په سیاســي برخه کــې به یې خپل صلابت له زیان ســره مخ کړی وي.
همــدا وجــه ده چــې د ایــران د بهرینو چــارو وزارت وزیــر تېره ورځ رســنیو ته پــه خبرو کــې وویــل چــې دوی امریکا تــه داډ ورکړی چې پــه اســرائیلو به برید نه کوي او داســې مناســب وخــت ته به انتظــار کوي چې داســې غبرګون وښــيې چــې د لوی ټکر او جګړې لامل نه شــي.
معنا دا چې د امریکا سیاست په بریالیتوب سره ایران حیثیت او سیاسي اتوریته تاواني کړه او ایران اوس د یو ضعیف او ناتوانه هېواد په توګه د امریکا په لومو کې ښــکیل شــو.
ایران تــل د خپلو غلطو سیاســتونو قرباني شــوی او هیڅکله ثابــت دریځ چې واک او حیثیــت ته یــې ګټور تمام شــي نه دی نیولــی او همــدا لامل دی چې سیاست یــې تل ناکام او له سیاســي شــعور ښخه پاتې اعظمــي ګټه یې نــه ده پورته کړې.
ایران که غواړي خپل حیثیت پر ځای کړي، د سیمې د هېوادونو با صلاحیته اجماع دې رامنځته کړي او په عاجله توګه دې مناسب غبرګون، چې اسرائیل او امریکا پوه شي چې ایران یو ښه کولای شــي او د خپل هېواد او خلکو د دفاع په لاره کې هیڅ تنزل نه کوي.



# برای کسانی که سیاست را از دین جدا می دانند!

مولوی نورالحق مظهری

کســانی که مســلمان نیســتند با آنها هیچ بحث نداریم ولی کسانیکه خود را مسلمان میدانند باز هم به این باور اند که سیاست از دین جدا است از آنها می پرسیم:
۱- اگر سیاست از دین جدا باشد چرا زمانی که رسول الله صلی الله علیه وسلم به مدینه منوره می‌آید نظام و دولت را تأسیس می‌کند و تا آخریــن لحظه زنده گــی خویش آنرا رهبری می‌کند؟
۲- بعد از وفات رسول الله صلی الله علیه وســلم صحابه کرام اولین کاری که انجام می‌دهنــد انتخاب حاکم برای مســلمانان است و خلافت راشده مسلسل تا حضرت علی(ک) جریان پیدا می کند؛
اگر سیاست از دین جدا می بود چرا صحابه کرام برای تمدید حاکمیت اســلامی اقدام می کردند؟
۳- بعــد از ختم خلافت راشــده به اتفاق مجتهدین امت حکومت‌ها و سلطنت‌های اســلامی قرن‌های متمــادی ادامه پیدا می کند؛
اگر سیاســت از دین جدا می‌بود چرا علماء امت اجازه مــی دادند کــه حکومت‌های اسلامی ایجاد شوند؟
٤- اگر سیاســت از دین جدا باشد چرا در قرآن‌کریم از حاکمیت سخن گفته می شود و احکام سیاسی در آن بیان می گردد؟
٥- اگر سیاســت از دین جــدا می بود چرا در قرآن‌کریم و ســنت نبوی(ص) در مورد اجرای حدود، اصول و ضوابط بیان گردیده و از اطاعت امراء مکرراً یاد آوری شده؟
٦- اگر سیاست از دین جدا می بود چرا در قرآن‌کریم از جهاد و جنگیدن در راه خدا یاد آوری شده و همچنین از اعداد و آمادگی بر ضد دشمن با تأکید سخن گفته شده؟
سخنی که با نقل، عقل و تجربه ثابت است اینســت که سیاست بدون شــریعت هیچ ارزشــی ندارد و دین بدون سیاســت هیچ مفهومی ندارد؛ کسانی که معتقد بر جدایی سیاست از دین اند، یا سیاست و شریعت را نمی شناسند و یا هم از تبلیغات سیکولران متأثر شده اند.
بعضی انسانهای متعصب و دین ستیز چنین فکــر می کنند که خلط سیاســت با دین از خلافت اموی‌ها شروع شده است در حالی که چنین نیست، بلکی سیاست واقعی هیچ وقت از دین جدا نبوده و در نزد مســلمانان هیچ وقت جدا نخواهد شد.

# د شهید لالي د ځوانۍ ګلاب خزان، خو یادګار یې لا هماغسې تاند او تازه دی

مولوي ضیاء الحق حسان

د دینــي علم د زده کوونکــو ژوند خورا له تکلیفونو، کړاوونــواو دردونو ډک وي.دوی د دینــي علومو د تحصیل په موخه غربت، ســفر، لوږې او تندې ګالي، ترڅو د اسلام ډېوه بلــه او د علمیت دا لــوی ویاړ یې په برخه شــي، ځینې یې هدف ته رسېږي او د علمیت په ګانه ســمبال شي، خو ځینې یې لکه ویشــتلې زانې د ملګرو له قطار پاتې او د شهادت اســمان ته هسک شي د علم غوټۍ یې همداسې ناسپړلې پاتې اوکتابونه یې مدرسه کې ملګرو ته پاتې شي.
د دې کاروان له قطار داسې زلمی هم شته ، چې له دستار وروسته یې په ځوانه ځوانۍ د شهادت شمال له موږ جدا او دستار یې د قبر د شناختو بیرغ شي.
یادګارلیــکل د دې کاروان د لارویانولاله پخــوا عــادت دی، دوی چې کلــه ناکله پرکتــاب یاهم د حجرې پــه رنګودېوالونو یادګارونه لیکی هدف یې یوازې ســاعت تېرول وي خوخبرنــه وي چې یووخت به یې همدایادګارونه ددېوال په ټټر هماســې تاند وي اودوی به د لحد دتوردېوال مېلمانه وي، ملګــري به یې په یادګارد تللي اتل یاد تاندوي او په فراق به یې اوښــکې د ګرېوان په انګرکې دغم ګډا کوي.
نن مې د یوتللي اتل شهیدآشنایادګارولید، پــه لیدو مــې یــې اوښــکې د ســترګو مېلمنــې شوې، شــهیدمولوي شېرمحمد«متوسم»چې د علم د دستار له ویاړ برخمن ؤ، د ځوانۍ ســپرلي یې تاندؤ په لیدو به یې رنځور زړونه ټکورېدل او په ښایسته ویانده اوشعري ژبه به یې مجلسونه او جلســې ښــکلې وې، له نن نه لس کاله وړاندې یې د شــهادت جام نوش کړ، وورور یــې راته ویل د شــهید مولــوي صاحب کتابونه یتیمان شول راته هاغه بل وررور مې (علي انس) هم شهیدشو دادی کتابونه مې درته راوړل تاسوسره یې زیاته ملګرتیاوه، د شهیدآشــناپاتې کتابونــو او د وررور خبرو یې داســې وردردولم تابه ویل متوسم جان بیاشــهید دی او د جنازې ورځ یې ده، نن مــی د ده له کتابونود مسلم الثبوت پاڼې اړوې را اړوي چــې یوکونج کې یې په مینه ناکوکوتو پورتنی یادګارانځورکړی ؤ.
هوکی یــادګار لا هماغســې تانددی، خو شهیداشــناد لحدغېږه کې دمــه دی اوکله به هم رانه شــي دده پاتــې یادګارونه به په اوښکو پالو .

# برگزاری میله دهقان و سی ومین نمایشگاه محصولات زراعتی در فارم تحقیقاتی بادام باغ

داوود ناظری

نخســتین نمایشــگاه محصولات زراعتی ســال ۱۴۰۳ به مدت چهارر روز از تاریخ ۱۳ تا ۱۶ ثور در فــارم تحقیقاتی بادام باغ کابــل برگزار شــد. هدف این نمایشــگاه هماهنگی بین تجاران ملی و بین‌المللی با دهاقین کشور و معرفی تولیدات داخلی به بازارهای داخلی و خارجی خوانده شد.
مسئولان امارت اسلامی افغانستان گفتند، تلاش‌ها بــرای معیاری ســازی تولیدات زراعتــی و عصری شــدن زراعت و آبیاری جریان دارد.
مولوی صدر اعظــم عثمانی معین وزارت زراعت و مالداری گفت، کشــور در بخش تولیــد مواد خــام به خودکفایی رســیده و تلاش‌ها جریان دارد تا سیســتم زراعت و آبیاری عصری گردد، به خصوص با ایجاد بندهــا و توزیــع تخم های اصلاح شــده زراعتی.
ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاســت الوزرا در این مراســم گفت، در بخش زراعت بودجــه افزایش یافته و برای بازاریابی محصولات زراعتی، ایجاد بندها برای مدیریت آب، ماشینی سازی زراعت و آموزش دهاقین برای استفاده از ماشینری زراعت نیز تلاش‌ها جریان دارد.
مولوی عبدالســلام حنفی معــاون اداری ریاســت الــوزرا گفت، بــرای خودکفایی زراعت تلاش ها جریان دارد. به گفته ایشان ۸۰ درصد مردم از زراعت تامین معیشــت می‌کنند. همه ســکتورهای خصوصی در بخش ایجاد ســردخانه و تکمیل کارهای باقی مانده آن سرمایه گذاری کنند. بخاطر بازاریابی فراورده‌های زراعتی پالیســی کارا روی دست گرفته شده.
مولوی عبدالکبیر معاون سیاســی ریاست الــوزرا از همــه تجــاران و شــرکت های داخلی و بین المللی خواست که در بخش زراعت افغانســتان ســرمایه گذاری کنند.
وی بر اســتفاده از تجارب جدید، عصری سازی سیســتم زراعت و آبیاری‌تاکید کرد و اطمینــان داد که هرگونه ســهولت برای سرمایه گذاران در این بخش فراهم گردیده.
نماینــده دهاقین در این مراســم گفت، با وجــودی که افغانســتان دارای بهترین آب و خاک اســت اما هنوز سیســتم زراعت و مالــداری به گونه ســنتی و غیر معیاری جریان دارد. دهاقین شــرکت کننده در این نمایشــگاه خواهان جلوگیــری از واردات محصولات مشابه کشــور گردیدند. خان محمد فروتن نســبت به کاهش مالیات و دستور امیرالمؤمنین(حفظ الله) درارتباط به اســتفاده مردم از محصــولات داخلی تشــکر کرد و گفت، اکنــون بهترین زمینه برای رشد زراعت فراهم گردیده.
در این مراسم پیام ملا محمد حسن آخوند رئیس‌الوزرا نیز بخوانش گرفته شد و تأکید شد که امارت اسلامی افغانستان از تمامی نیــرو و امکانــات برای توســعه زراعت و مالداری استفاده می کند.
در ایــن نمایشــگاه محصــولات دهاقین از۳۴ ولایــت به نمایش گذاشــته شــده است.



# د ښه ژوند کولو اصول

**منیرفاروقي**

اسلام په پوره معنی یو کامل دین دی او د الله جل جلاله کتاب قران یو داسې لارښود او رهنما دی، چې هېڅ شک او شبهه په کې نشته. د ښه ژوند جوړولو او کولو ټولې لارې چارې په کې شته.

که چېرې غواړئ، یو ښکلی ژوند ولرئ، د شریرو انسانانو له اذیت او ازار څخه په امن وئ، دوستان مو ډېر وي، د خلکو په منځ کې د یو جامع انسان په حیث ژوند وکړئ، د انسانانو په زړونو کې ځای پیدا کړئ او همدارنګه که غواړئ د دنیا او اخرت بریاوې ترلاسه کړئ؛ نو د الله تعالی کتاب ته رجوع وکړئ! د الله په کتاب کې د ښه او اعلی ژوند کولو اصول بیان شوي دي، که چېرې دې هغه اصول او مقررات عملي کړل، نو یقیناً تاسو به یو ښکلی ژوند ولرئ.

هغه اصول او مقررات ځینې داسې دي.

الله تعالی په قران عظیم الشان کې انسانانو خاص کر مؤمنانو ته د ښه ژوند کولو په باره کې، چې مفهوم یې داسې دی فرمایي:

۱- په اسلام کې پوره داخل شئ!
۲- ظلم او زیاتی مه کوئ!
۳- په ځمکه کې فساد مه کوئ!
۴- حق له باطل سره مه ګډوئ!
۵- بې علمه خبرې مه کوئ!
۶- په ځمکه تکبر سره مه ګرځئ!
۷- خلکو سره په ورین تندي مخامخ کېږئ یعنې خلکو ته تندی مه ګونځوئ!
۸- مؤمنانو سره نرمي کوئ!
۹- خپل اواز تل ښکته ساتئ!
۱۰- په مزل کولو کې میانه روي کوئ!
۱۱- د جاهلانو څخه مخ اړوئ!
۱۲- ښېنه کوئ او امر په نیکی کوئ!
۱۳- دفاع په ښایسته طریقې کوئ!
۱۴- د دین دعوت په حکمت سره کوئ!
۱۵- خپله صدقه په احسان بارولو او ضرر رسولو سره مه بربادوئ!
۱۶- پردی مال بې اجازې مه خورئ!
۱۷- چا ته غلط نوم مه اخلئ!
۱۸- په بل قوم پسې ټوکې/مسخرې مه کوئ!
۱۹- غیبت مه کوئ!
۲۰- جاسوسي مه کوئ!
۲۱- له ډېرو ګمانو ځان ساتئ!
۲۲- په هر څه کې انصاف څخه کار اخلئ!
۲۳- د سلام ځواب په ښایسته ډول ورکوئ!
۲۴- د مور او پلار سره ښېګنه کوئ!
۲۵- د خپلوانو او یتیمانو سره ښېګنه کوئ!
۲۶- غریبانو او مسکینانو ته خوراک ورکړئ!
۲۷- د یتیم مال په ناحقه مه خورئ (یعنې یتیم ته خپل مال ورکړئ!)
۲۸- صدقې او خیراتونه ورکړئ!
۲۹- وینا سمه او سیده کوئ!
۳۰- خلکو ته ښایسته خبرې کوئ!
۳۱- د ثواب او خیر کارونو کې له خلکو سره مرسته وکړئ!
۳۲- له هیچا سره د ګناه او ظلم په کارونو کې مرسته مه کوئ!
۳۳- د بې ځایه قسمونو څخه ځان وساتئ!
۳۴- پیمانه سمه کوئ (یعنې په پیمانه کې کمی او زیاتی مه کوئ).

پورته یادې شوې کړنې د الله جل جلاله له لوري خپلو بندګانو ته لارښوونې، په دنیا کې د ښه ژوند کولو اصول او قواعد دي.

رب دې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. امین یا رب العلمین

## کار پروژه تولید ۱۰ میگاوات برق...

پروژه تولید ۱۰ میگاوات برق با منبع آفتابی از پروژه‌های وزارت آب و انرژی است که با سرمایه‌گذاری شرکت استخراج و پروسس «عوف بهرام» در حال تطبیق است.

این پروژه از جریان کار آن ابراز رضایت کرده است. سرپرست وزارت آب و انرژی در پیوند به کیفیت و اهمیت پروژه با مسوولان زیربط، گفت‌وگو کرده است.

## انجنیر عزیز بریالی د دولتي ورځپاڼو...

خپله دنده پیل کړه. ښاغلي عزیزي نوموړي ته په خپلو چارو کې د بریا دعا وکړه. د هنر او فرهنګ مرستیال عزیر بریالی په خپلو چارو کې بریالی یاد کړ او د پخواني رییس مولوي محمد ابراهیم نبیل چوپړونه یې هم وستایل. ښاغلی بریالی د دولتي ورځپاڼو د پخواني رئیس مولوي محمدابراهیم نبیل ځایناستی ټاکل شوی او ښاغلي نبیل ته د معارف راډیو تلویزیون چارې سپارل شوي. انجینیر عزیر بریالی د معارف راډیو تلویزون سلاکار او وروسته شاوخوا یو کال د یاد ریاست رئیس و. د ښاغلي عزیر په ریاست کې معارف راډیو تلویزیون نوي ساه ومونده، ښوونیز پروګرامونه یې نوي او عصري شول. انجنیر عزیز بریالی په کمپیوټر ساینس کې لسانس لري. نوموړی د اسلامي امارت د لومړي پېر د بهرنیو چارو د وزیر مولوي وکیل احمد متوکل زوی او د ستر عالم او غرا شاعر شهید مولوي عبدالغفار بریالي لمسی دی. شهید بریالی د پښتو ژبې د هندي سبک شاعر و چې د حج د فریضې تر ادایني وروسته په کندهار هوایي ډګر کې کمونستانو ونیو او له شکنجو وروسته یې شهید کړ.

## تأکید همکاری میان سفارت‌خانه‌های...

روابط آن کشور با افغانستان بیشتر از این هم نزدیک‌شود. براساس خبرنامه؛ در دیدار یادشده، بر ارتباط و همکاری میان سفارت‌خانه‌های دو کشور نیز تاکید شده است.

## ترکمن پلاوی د سوداګریزو تړونونو...

پلاوی به له افغان لوري سره د مرمرو ډبرو د صادراتو اړوند یو تړون هم لاسلیک کړي.

دا سفر په داسې حال کې کېږي چې تېر کال په وري میاشت کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر نورالدین عزیزي ترکمنستان ته د خپل سفر په ترڅ کې دغه هېواد ته د افغانستان د صادراتو دروازه پرانیسته او هلته یې د افغانستان د صنایعو یو نندارتون جوړ کړ.

## حجاج به وقت معین به عربستان سعودی...

بیشتر باجوانب ذیربط و سعی و تلاش مسؤلین وکارمندان وزارت نسبت به سال های قبل بسیار خوب ترتیب و تنظیم گردیده است و حجاج افغانستان به وقت و زمان معینه آن به عربستان سعودی جهت ادای حج بیت الله شریف اعزام می گردند و در آنجا نیز سهولت های لازم را برایشان آماده نمودیم.

قابل ذکر است که پروازهای حجاج عنقریب از افغانستان توسط شرکت‌های هوایی آریانا و کام ایر به عربستان سعودی آغاز می گردد.

## ننګرهار کې ۶۰ کلنه دښمني...

د یادونې ده، چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت دا او دې ته ورته لوییاو ورې شخړې د هیواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ییزو مشرانو او قومي مخورو په همکارۍ حل کړې دي او په دې برخه کې لا هم ګړندي ګامونه اخلي.

## آغاز کار ساخت پنج شبکه...

شبکه آب‌رسانی از سوی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) پرداخت می‌شود. در خبرنامه آمده که با تکمیل کار این پنج پروژه، حدود ۲ هزار خانواده به آب صحی، دسترسی خواهند داشت. گفته شده که حین تطبیق این پروژه‌ها برای ده‌ها تن نیز، فرصت کار فراهم خواهد شد. دسترسی شهروندان کشور به آب صحی از اهداف وزارت احیاء و انکشاف دهات، به شمار می‌رود.

## د «لته بند» سړک پاتې چارې...

کتنه کې هوکړه کړې وه چې کابل-جلال آباد د سړک پاتې چارې به یې د یوه کان په بدل کې رغوي. د کابل ـ جلال آباد د (دویم سړک) چارې چې لته بند له سروبي ولسوالۍ سره نښلوي، د بیارغونې چارې یې پیلېدونکی دی.

## هرات کې د کیمیاوي سرې تولیدي...

ورته مهال د یاد ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي پیرمحمد حلیمي د یادې کارخونې په فعالیت خوښي څرګنده کړې او له بزګرانو یې غوښتي چې له کورني تولیداتو څخه ګټه واخلي.

د یادونې وړ ده، چې په دغه شرکت کې هیومیک اسید، کلسیم نایټریټ، ګراپ مکس، سبست او په نړیوالو معیارونو پوډري کیمیاوي سرې تولیدېږي، چې بزګران کولای شي د کرنې د ودې په خاطر ترې استفاده وکړي.

## د پاکستان له زندانونو ۱۵ افغانان...

کسان د قانوني اسنادو نه لرلو له امله له ۱۹ ورځو تر ۲ میاشتو پورې بندیان وو. له تېرو دوو کلونو راهیسې د پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې په سلګونه افغان کډوال د قانوني اسنادو د نه لرلو په تور د دغه هېواد د پولیسو لهخوا بندیان شوي چې په کې ښځې، ماشومان او سپین ږیري هم شامل وو.

## به مشکلات اقوام هزاره در چوکات...

وزارت امورسرحدات، اقوام و قبایل با اعضای کمیسیون مشترک حل منازعات کوچی ها و اقوام هزاره ولایت میدان وردک در دفترکاری خویش دیدار کرد.در نخست یکی از اعضای کمیسیون در مورد فعالیت و کارکردهای های کمیسیون نامبرده معلومات ارایه نموده و یک سلسله مشکلات و پیشنهادات خویش را در بخش های مختلف با معین جرگه ها شریک نموده، خواستار همکاری همه جانبه رهبری وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل در قسمت حل مشکلات شان گردیدند.

مولوی محمد علی جان احمد معین جرگه ها و هماهنگی امور قبایل از تلاش های کمیسیون نامبرده در قسمت حل منازعات میان کوچی ها و باشندگان محل ابراز سپاس و قدردانی کردند.

احمد افزود من وعده می سپارم که به همه مشکلات این کمیسیون در چوکات قانون و اصول در حد توان رسیدگی صورت خواهد گرفت.

## استقبال شهروندان از فعالیت های...

چشم‌گیر می‌داند واما می‌گوید اغلب مشکلات ساخت وسازِ میراث حکومت گذشته است که اکنون رهبری شاروالی کابل با آن روبه‌رو است و وظایف سنگین را بر دوش دارد و اکثر ساختمان‌ها در کشور به ویژه در کابل غیر معیاری است و مشکلات خودرا دارد.

این آگاه مسایل اقتصادی اشاره نمود که در کشور سیستم فاضلاب درست وجود ندارد و مردم کابل به مشکلاتی از جمله کم‌بود آب، تراکم نفوس و نبود ترانسپورتیشنِ معیاری دچار هستند.

وی می‌گوید، شاروالی کابل به همکاری سکتور خصوصی می‌تواند از این مشکلات رهایی یابد و گام‌های بزرگی برای بهبود وضعیت و رهایی از مشکلات بردارد.

از سوی‌هم شهروندان کابل، ایجاد سرک‌ها و ساخت وساز در گوشه و کنار کابل را که از سوی ریاست شاروالی کابل صورت می‌گیرد درخورِ ستایش و گامِ برای کاهش ازدحام ترافیکی و در کُل بهبود وضعیت موجود می‌دانند. آنان ایجاد سرک‌ها و توسعه‌ی آنرا از سوی ریاست شاروالی کابل باعث کاهش ازدحام ترافیکی در شهر می دانند.

منصور جعفری، تکسی رانِ است که بیشتر از ۱۵ سال می شود به شغل تکسی رانی مصروف است. وی ایجاد سرک های جدید و برداشتن موانع را از جاده‌های شهر کابل کار مناسب در نظم شهری و کاهش ازدحام ترافیکی می‌داند و می‌گوید: «اُمیدوارم که ساخت و ساز سرک‌ها از سوی شاروالی کابل ادامه یابد تا ازدحام ترافیکی در شهرکابل برچیده شود و مردم بتوانند به اسرع وقت به کارهای روزمره شان رسیدگی نمایند.»

این درحالیست که با وجود ایجاد سرک‌ها و برداشتن سنگ‌های استنادی از نقاط مختلف شهرکابل، هنوزهم ازدحام ترافیکی در مرکز وجود دارد و شهروندان ایجاد سرک‌های جدید را در کاهش ازدحام ترافیکی موثر می‌دانند.

**ببرک قیومی**

# افغان اعلانات

**اعلان دعوت به داوطلبی ساختمانی**

موضوع تدارک: {تهیه مواد و اجرای احجام پروسه کاری امورات (ساختمانی، شبکه برق و سیستم سولری و آبرسانی) اعمار (۱۵) باب پوسته ۱۰ نفری شامل تعمیر پوسته، گارد تاور، تشناب، حمام و دیوار احاطوی برای لوای چهارم سرحدی مربوط قول اردوی ۲۱۵ عزم از بابت سال مالی ۱٤۰۳}، دارای نمبرتشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱٤۰۳-امور ساختمانی-۰۱۲٤-۲٥۱۰٥).

آدرس و مدت اخذ شرطنامه: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک ٥ اطاق نمبر(۲۱۳) از تاریخ نشر اعلان الی بیست و یک یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات شماره تماس (۰۲۰۲٦۱۲۰۹۷).

تضمین آفر: مبلغ {۱،۳۰۰،۰۰۰} یک میلیون و سه صد هزار افغانی به شکل بانک گرنتی اخذ میگردد.

روش تدارکات و زبان: داوطلبی باز داخلی (دری و پشتو).

ضرب العجل تسلیمی آفرها: از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ساعت (۱۰:۰۰) بجه قبل از ظهر میباشد.

ضرب العجل آفرگشایی: از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ساعت (۱۰:۰۰) بجه قبل از ظهر.

نوعیت اخذ شرطنامه: بشکل کاپی/سافت ( CD ). داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل سافت دریافت نموده و حق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده و اطمینان خویش را حاصل نمایند.

همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی ( www.mod.gov.af ) دانلود نمایند.

محل آفرگشایی: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشایی.

نوت: از داوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آنرا مطالعه نموده و هنگام تسلیمی آفر اسناد توانمندی مالی و سایر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه را تسلیم نمایند.

نوعیت اخذ شرطنامه: در صورتیکه داوطلبان شرطنامه را از ویب سایت های وزارت دفاع ملی و اداره محترم تدارکات ملی به شکل سافت بدست میآورند تقاضا میگردد تا به صورت دوامدار به ویب سایت های متذکره رجوع نموده تا در صورت تعدیلات متعاقباً معلومات لازمه را بدست آورند و حین ارایه آفر خویش تعدیل (در صورت لزوم) آنرا مهر و امضا نموده و ضم آفر خویش ارایه بدارند شرکت هاییکه بشکل هارد، کاپی بدست میآورند در صورت هرنوع تعدیل توسط ریاست تدارکات رسماً به جانب شرکت اصدار خواهند یافت و شرکت دریافت کننده مکلف خواهد بود حین ارایه آفر آنرا مهر و امضا نماید.

داوطلبان که از طریق انترنت شرطنامه اخذ مینمایند قبل از جلسه آفرگشایی جهت راجستر شدن با ورقه درخواست به دفتر ریاست تدارکات مراجعه نمایند.

نوت: داوطلبان که از طریق انترنت شرطنامه اخذ مینمایند جهت اخذ نقشه و لایحه کار پروژه متذکره به شعبه بخش ساختمانی این ریاست مراجعه نمایند.

***

د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې ګردي چوک کې د یو باب مخروبه ودانۍ او دوکانونو چې (۱۵۵۵) متره مربع د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چې د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند ګردي چوک سره د یو بابه مخروبه ودانۍ او دوکانونو چې (۱۵۵۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۱۲۵۰۰) افغانۍ ده د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندې کوي.

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۱٦ /۱٤۰۳) څخه وروسته تر (جوزا /٤ / ۱٤۰۳) پورې د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه دې ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱٤) پوړیزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۰٥ /۱٤۰۳) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې ترسره کېږي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

***

د داوطلبۍ اعلان

د ملي دفاع وزارت د تدارکاتو ریاست ټولو هغو داوطلبانو/ شرکتونو ته چې په شرایطو برابر وي بلنه ورکوي تر څو د ملي دفاع وزارت د قطعاتو او جزوتامونو د اطفایوي استیشنونو د اړتیا وړ د (۱٤) قلمه تجهیزاتو او وسایلو د چمتو کولو او ترلاسه کولو پروژې په داوطلبۍ کې چې د داوطلبۍ روش یې پرانیستې( باز) روش دی او د قرارداد ډول یې باالمقطع دی ګډون وکړي او خپل ترلي/ سر بسته آفرونه د شرطنامې د شرایطو، د تدارکاتو د قانون او تدارکاتو د کړنلارې مطابق د اعلان له نشر څخه وروسته د ۲۱ ورځو په موده کې وړاندې کړي.د اعلان د نشر له نیټې څخه وروسته په ۲۲ ورځ مخکې تر ماسپښین ۱۰:۰۰ بجې باندې آفرونه اخلي، ناوخته رسیدلي او انټرنیټي وړاندې شوي آفرونه د منلو وړ نه دي.

آدرس او د شرطپاڼې د ترلاسه کولو وخت: د شرطپاڼې د ترلاسه کولو لپاره داوطلبان/ شرکتونه کولای شي چې د اعلان د نشر له نېټې څخه وروسته تر ۲۱ ورځې د رسمیاتو له شروع بیا تر ختمېدو پورې د ملي دفاع وزارت د تدارکاتو ریاست چې د کابل ښار، ۱٥ ناحیه، ګارد سابقه کې موقعیت لري تر لاسه کړي، همدارنګه داوطلبان/ شرکتونه کولای شي چې شرطپاڼه د ملي دفاع وزارت له سایټ(.www.mod gov.af) څخه ډاونلوډ کړي، داوطلبان حق لري چې ډاونلوډ شوې شرطپاڼه له اصلي شرطپاڼې سره مقایسه او خپل اطمنان حاصل کړي.

تضمین آفر: د بانک ګرانتی په شکل مبلغ(۷۰۰۰۰۰) اووه سوه زره افغانی دي.

تضمین آفر به په اصلي بڼه تسلمېږي، کاپي او سکن د منلو وړ نه دی ،فقط بانکي تضمین د منلو وړ دی.بانکي تضمین باید د آفر له اعتبارڅخه ۲۸ ورځې زیات اعتبار ولري؛ یعنې تضمین به د آفر کشایي له ورځې وروسته ۱۱۸ ورځې د اعتبار وړ وي.

د آفرګشائی ځای/محل: د تدارکاتو ریاست د آفرګشایي تالار، کابل ښار، ۱٥ ناحیه خواجه بغرا ګارد سابقه.

نوټ:له ټولو داوطلبانو څخه هیله کېږي چې د شرطپاڼې له ترلاسه کولو څخه وروسته د شرطپاڼې ټول مواد مطالعه، د آفر د تسلیمۍ په مهال اړوند سندونه لکه تضمین آفر، مالي وړتیا/ توانایې او نور په شرطپاڼه کې غوښتل شوې اسنادونه تسلیم کړي.

***

**اعلان داوطلبی**

وزارت ارشاد حج و اوقاف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (پروژه حفر چاه عمیق مجتمع حجاج زون مرکز بابت سال مالی ۱٤۰۳). اشتراک نموده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه امارت اسلامی افغانستان سر از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

حصول شرطنامه از آدرس ذیل :

ریاست تدارکات ، وزارت ارشاد،حج و اوقاف، (شهرنو، چهارراهی عصمت مسلیم تعمیر سابقه ریاست حج فرضی) در اوقات رسمیات، ذریعه سی دی، فلش به دست آورده زمان آفرگشایی مطابق به مندرجات صفحه دستورالعمل به داوطلبان شرطنامه میباشد. آفرها دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر مبلغ (٥۰,۰۰۰) پنجاه هزار افغانی به شکل تضمین بانکی و شرایط اهلیت مطابق مندرجات صفحه معلومات داوطلبی می باشد.

نوت : اگر کدام تفاوت میان متن شرطنامه و اعلان دعوت به داوطلبی موجود باشد، متن شرطنامه مدار اعتبار است.

***

**اطلاعیهٔ تصمیم اعطای قرارداد**

بدینوسیله به تأسی از فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود که ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء در نظر دارد قرارداد تدارک ۳ قلم گوشت باب ضرورت ریاست خدمات دارای تشخیصیه نمبر (OCS/1403/G-53) را با شرکت ابو عزیز لمیتد واقع مندوی ناحیهٔ اول، مرکز کابل، کابل دارندهٔ جواز نمبر (۳٦۰۰) وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی (۱۲,۰۰۰,۰۰۰) دوازده ملیون افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق حکم مادهٔ پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت رحیم بلال لمتید یک عراده موتر پلیت ۷۷۱۹۸-۴ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد نصیر فرزند محمد زرین بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۷۵

***

**اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات**

دفتر رهنمای فواد اکرمی دارنده جوازه نمبر۴۸۹۹ به اسم محترم فواد فرزند حاجی محمد شریف، واقع نحیه ۶ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه کوچه عباس قلی ناحیه ۶ شهرداری کابل نقل مکان نماید. بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۸۸۶

Shariat Daily

شريعت
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
انجنير عُزير بريالى / ۰۷۱۱۹۰۰۴۰۰
مسؤل مدير: فاروق غلجى/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزيع و شکايات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0711900400
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ويب سايت: WWW.shariatdaily.com


Sunday 05 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 444

# ترکمن پلاوی د سوداګريزو ترونونو د لاسليک په موخه هرات ته تللی



د سوداګرو او صنعتکارانو ټولنې د رئيس نوکر قلي اناقلي اف په مشرۍ يوه لوړ پوړي سوداګريز پلاوي هرات ته سفر کړی دی.
د هرات د صنعت او سوداګرۍ رئيس مولوي بشير محمد سيرت باختر آژانس سره د خبرو پرمهال ويلي چې دغه پلاوی د سوداګريزو اړيکو د پراختيا، ، د افغانستان له سوداګريزو سيمو څخه د ليدنې، له افغانستان څخه ترکمنستان ته د ساختماني موادو په خاص ډول د مرمرو ډبرو د صادراتو په پار هرات ته تللی دی.
بل پلو، د هرات د صنايعو او کانونو د خونې رييس حميدالله خادم ويلي چې دغه ...۳مخ

## تأکید همکاری میان سفارت‌خانه‌های افغانستان و اندونیزیا




نقیب الله احمدی، سرپرست سفارت کبرای امارت اسلامی افغانستان در کوالالمپور پایتخت مالیزیا با سفیر اندونزیا در آن شهر دیدار کرده است.
دفتر مطبوعاتی سفارت کبرای افغانستان در کوالالمپور در خبرنامه‌ی نوشته است که نقیب الله احمدی، سرپرست سفارت کبرای امارت اسلامی افغانستان در کوالالمپور، در دیدار با سفیر اندونزیا در مورد روابط تاریخی دوجانبه بین دو کشور صحبت کرده است.
سرپرست سفارت افغانستان در این دیدار گفت که اندونزیا یک کشور بزرگ مسلمانان در جهان است و ابراز امیدواری کرد که ... ص۳

## چين له سېلاب ځپلو سره سل زره ډالره مرسته کړې



د چين سفارت مرستيال باو ژوهاى د ياد هېواد په استازولۍ د افغاني سرې مياشتې ټولنې مرستيال ملا نورالدين ترابي ته د وروستيو سېلاب ځپلو د لاسنيوي په موخه سل زره امريکايي ډالر سپارلي دي.
د يادې مرستې د سپارلو پر مهال د افغاني سرې مياشتې مرستيال ملا نورالدين ترابي وويل: وروستيو سېلابونو په ټول هېواد کې خلکو ته په لوړه کچه مالي او ځاني زيانونه اړولي دي. د ښاغلي ترابي په قول، سېلابونو په هلمند، ارزګان او کندهار ولايتونو کې ۲۳ زره جريبه کرنيزه ځمکه ويجاړه کړې ده. ملا ترابي له چين څخه مننه وکړه چې په ستونزمنو حالاتو کې د افغانانو لاسنيوى کوي.
مرستيال سفير په خپلو خبرو کې وويل: چين هوډ لري تر څو په هره برخه کې د افغانانو لاسنيوى وکړي او هيله يې وښوده چې راتلونکې کې به هم د سورې زره ناروغانو د درملنې لپاره مرستې ترسره کړي.

## شیخ الحدیث نور محمد ثاقب:
## حجاج به وقت معین به عربستان سعودی اعزام می گردند



سرپرست وزارت ارشاد حج و اوقاف هنگام بازدید از جریان امور کاری کمیته سیستم پرینت ویزه حجاج گفت:
حجاج افغانستان به وقت و زمان معینه آن به عربستان سعودی جهت ادای حج بیت الله اعزام می گردند.
دفتر مطبوعاتی وزارت ارشاد حج و اوقاف با نشر این خبر گفته است که شیخ الحدیث نورمحمد ثاقب سرپرست وزارت ارشاد، حج و اوقاف از جریان امور کاری کمیته مسار الکترونیکی که از طریق آن پاسپورت حجاج داخل سیستم گردیده و ویزه حجاج نیز از همین طریق پرینت می شود، همچنان گروپ بندی حجاج، تثبیت محلات حجاج در مدینه منوره و مکه مکرمه و سایر معلومات مهم دیگر نیز از طریق همین سیستم تنظیم می شود، بازدید کرد.
در این بازدید سرپرست وزارت ارشاد، حج و اوقاف گفت که امسال پروسه حج با در نظرداشت برنامه ریزی های قبلی و هماهنگی ... ص۳

## تېرو دوو کلونو کې پر بزګرانو ۷۰ زره ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسوولينو ويلي چې په تېرو دوو کلونو کې د ۷۰ زرو ټنو اصلاح شويو تخمونو پر وېش پرېالي شوي دي.
د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وايي چې دا تخمونه يې اړمنو بزګرانو ته د کرکيلې په موخه ورکړي دي.
د دغه وزارت د وياند په خبره د اصلاح شويو تخمونو د وېش تر څنګ يې کيمياوي سرې هم وېشلي دي.
بل پلو، کروندګر د کرنې د پراختيا په پار د اصلاح شويو تخمونو وېش ګټور بولي او د کرنې وزارت د همکاريو د زياتولو غوښتنه کوي.




## ننګرهار کې ۶۰ کلنه دښمني هواره شوه

د ننګرهار په دره نور ولسوالۍ کې د دوو خونړيو کورنيو ترمنځ شپېته کلنه دښمني چې نږدې ۵ کسان يې هم په منځ کې وژل شوي وو، د ياد ولايت د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو رياست د مسوولينو او قومي مشرانو په همکارۍ هواره شوه.
د دغې دښمنۍ د حل په موخه د شخړې دواړه لوري، قومي سپين ږيري او د رياست مسؤلين په يوه مرکه کې راټول شوي وو، چې پر مهال يې مرکچي پلاوي ته اختيار ورکړل شو او له پوره څېړنې وروسته د موضوع په اړه پرېکړه وشوه. په پرېکړه کې يوه لوري ته له افغاني دود سره سم د مرکچيانو عذر وړاندې شو، چې له منلو سره سم يې دواړو لوريو يو بل ته د پخلاينې غېږه ورکړه. ۳مخ

## آغاز کار ساخت پنج شبکه آب‌رسانی در غور



وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، کار ساخت پنج شبکه آب‌رسانی صحی در مربوطات ولایت غور به ارزش ۱۰ میلیون افغانی، آغاز شده است. این وزارت با نشر خبرنامه‌ای دیروز آغاز کار این شبکه‌ها، خبر داده است.
بربنیاد خبرنامه، قرار است این شبکه‌های آب‌رسانی در شهر فیروزکوه، مرکز ولایت غور و ولسوالی‌های تیوره، دولینه و چهارسده، ساخته شوند.
هزینه ساخت این پنج... ۳مخ

# رویدادهای خارجی

## مالیزیا د صهیونستانو له یوه همکار شرکت سره پرېکون اعلان کړ




د ماليزيا حکومت له غزې څخه د ملاتړ په پار د کې.اېف.سي. شرکت ترلی او له محصولاتو سره يې پرېکړن اعلان کړ.
نړيوالې رسنۍ وايي چې ماليزيا د کې.اېف.سي. شرکت ځينې ځانګې تر نامعلومې مودې پورې ترلي دي.
ماليزيايي چارواکو ويلي، چې دغه ګام يې له فلسطينيانو څخه د ملاتړ په موخه اخيستی دی.
کې. اېف. سي. د تيارو خوړو نړيوال امريکايي شرکت دی او له اسرايلو سره نږدې اړيکې لري.
څو ورځې وړاندې ترکيې هم له اسرائيلو سره اقتصادي اړيکې ودرولې او تر هغه وړاندې کولمبيا بيا له دغه رژيم سره ډيپلوماتيکې اړيکې پرې کړې وې.

## گسترش اعتراضات محصلان امریکایی؛
## پوهنتون یمن معترضان اخراج‌شده را می‌پذیرد

بربنیاد گزارش رسانه‌های بین‌المللی، دامنه اعتراضات محصلان به تجاوز رژیم اشغالگر اسراییل در نوار غزه و کشتار غیرنظامیان از سوی این رژیم، به پایتخت فرانسه نیز گسترش یافته است.
محصلان پوهنتون ساینس پو در شهر پاریس فرانسه در حمایت از فلسطینیان و مخالفت با ادامه کشتار غیرنظامیان در غزه، اعتراض کرده‌اند.
با این حال، گفته می‌شود که اعتراض محصلان با آن که مسالمت‌آمیز بود، از سوی پولیس سرکوب شده و معترضان از سوی پولیس از صحن پوهنتون بیرون کشیده شده‌اند.
در همین حال، مقام‌های پوهنتون صنعا در یمن اعلام کرده‌اند که این پوهنتون محصلان اخراج‌شده از پوهنتون‌های امریکا را با آغوش باز می‌پذیرد.
یک مقام این پوهنتون گفته، به هرگونه‌ای که ممکن باشد در کنار فلسطینیان می‌ایستیم و از آنان حمایت می‌کنیم.
آمادگی پوهنتون یمن برای پذیرش محصلان معترض به تجاوز رژیم اشغالگر اسراییل در غزه، پس از آن اعلام‌شده که برخی از پوهنتون‌های امریکا در پی اعتراض هزاران محصل نسبت به ادامه کشتار غیرنظامیان از سوی اردوی اسراییل عضویت‌شان، تعلیق شده است.




## عمران خان:
## که غلا شوې رايې بېرته راکوئ، خبرو ته تيار يم

د پاکستان پخواني لومړي وزير او د تحريک انصاف ګوند مشر له اډياله زندانه په يوه پيغام کې ويلي چې خپلو مخالفانو سره هغه مهال خبرو ته حاضرېږي چې له ياد ګوند څخه غلا شوې رايې بېرته ورسپنې کړي.
نوموړي ويلي چې د تحريک انصاف ګڼ بېګناه بنديان لا هم په بند کې دي او بايد ازاد شي.
خان په دغه پيغام کې چې د تحريک انصاف ګوند غړو خپور کړی له اړونده قاضيانو او عدلي ځانګو څخه غوښتي چې د نوموړي قضيه دې نه ځنډوي او د نوموړي په اړه شوې پرېکړه دې په ډاګه کړي.
نوموړي پر ده ټول لګېدلي تورونه بې بنسټه بللي او خپل سيالان يې تورن کړي، چې غواړي په دغه شان بې بنسټه تورونو هغه ته سياسي بدنامي واړوي او له سياسي ډګره يې لرې وساتي.
د پاکستان پخوانى لومړى وزير او د تحريک انصاف مشر عمران خان د دولتي ډاليو پر پلور لس کاله بندي له هر ډول سياسي فعاليته منع شوی.




## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!